



د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# مجیب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیته : 5 جولای 2015 م

# شینکۍ

زموږ پخوانی کلی کې
چینو ،ویالو ،سیندونو، سپې وهلې
ځکمې، پټې، بڼونه، ګلونه ،اوبو نه خړوبه کیدل
بلبلان ، بوراګان ، پتنګان هره خوا نڅیدل
خانان، ځوانان، ماشومان، په زړه کې خوښې نه ګډیدل
بس هره خوا خوښۍ خوښۍ وه
خندا خندا وه دا ځکه چې
د قلم ځای ټوپك نه وه نیولي
چې د خندا ځای ژړا نه وه نیولي
چې د لوبو ځای قصاص نه وه نیولي
خو اوسنی کلی ته راشه
هره خوا پردي پردي دي
هره خوا چپه چپتیا ده
چینې وچې ویالې وچې ځمکې وچې
د هر ځوان په لاس کې
ټوپك ډبره یا برچه ده
خلك ظالم شوي په بي رحمۍ شینکۍ ولي

شینکۍ !
دا هم زموږ د کلۍ ده
ماته خو هوښیاره ښکارکیده

خود نورود سترګو خار وه
زه پرى مين وم خود نورو بديده
د ګلى ظالمانو په ډبرو ويشته
او خواره کې له سهاره ترماښامه ژړيده
او زما ځنګ ته هرو مرو راتله
پوهيږې ؟
چې دا څوك ده ؟
دا د پخوانى کلى هغه زړه شوې پيشو ده
چې
اوس هم دردونه وينې
او غمونه ګالي

***

مجيب الرحمن « خطيبى »
۱۳۹۲،۴،۳

**[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)**– بازګشت به صفحه اصلى